# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد        بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم        از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com        afgazad@gmail.com

| حقوق بشر | Human rights |
|---|---|



محمد هارون خپل شعشعي


۲۵ اکتوبر ۲۰۱۱

## د يرغلګرو پوځو او مزدورو زورواکو سيستماتيکي ځورَوني

## ۲

### د يوناما په رپوټ کي څه راغلي دي؟

د امريکايي يرغل تر کرغېړن سېوري لاندي په افغانستان کي د کرزي په مشرۍ د شمالي اتحاد په جنايتکاره او بې رحمه واکمنۍ کي د سيستماتيکي ځورَوني رپوټونه، څه نوي او ارياوونکي خبره نه ده . د ملګرو ملتو سازمان، چي د نړۍ تر يو قطبي کېدو را په ايسته يې، په بين المللي مسألو کي داستعمارګرو دولتو د چپاړسي حيثيت پيدا کړئ دئ، له همغه پيل څخه دا شکنجي او تعذيبونه په سترګو ليده؛ خو د بادارانو د نه رسوا کولو او خښمولو په مقصد يې هيڅکله سر نه خلاصوه. د مظلومو او کړېدلو افغانانو د ځورَوني مسأله اوس دونه پراخه او عامه سوې ده، چي دا دئ د ملګرو ملتو بې واکه او تش په نامه سازمان هم بالاخره مجبور سو، چي د افغانستان په امنيتي او استخباراتي ادارو کي د چارواکو پر سيستماتيکو ځورونو او تعذيبو رسماً اعتراف وکړي . د ليکني په دې برخه کي د يوناما په رپوټ کي د وړاندي سوو حقايقو په اړه څو لنډي خبري کوو.

دا رپوټ په حقيقت کي د درې سوه ونه اويا ( ۳۷۹) ګډود يا ناڅاپه غوره سوو بنديانو د هغو مرکو پر بنسټ جوړ سوئ دئ، چي د ۲۰۱۰ع کال د اکتوبر او ۲۰۱۱ع کال د اګست د مياشتي تر منځ سوي دي . په دې ځلور اويا مخيز رپوټ کي د پينځلسو( ۱۵) بنديانو د ځورَوني کيسي راغلي دي .

په رپوټ کي ويل سوي دي، چي د هغو کسانو له نيمايي سره وحشيانه او ساديستي چلند سوئ دئ،چي د افغانستان د استخباراتي ادارې ( ملي امنيت) يې پوښتني او ګروېږني کړي دي؛ او د هغو کسانو له دريمي برخي سره کټ مټ همدا چلند سوئ، چي د « ملي پوليسو » له خوا نيول سوي وه .

حقيقت دا دئ، چي ځورَونه او تعذيب تر  هغو ادارو دباندي هم پراخ او ژور استعمال لري، چي دوى يې د « ملي امنيت » او « ملي پوليسو» په نامه يادې؛ خو په واقعيت کي د وحشت، چور وچپاو، انسان تښتونو، قانون نقضونو او ستمي غچ اخيستونو مرکزونه دي . بې ځايه نه ده، چي په دې اړه د تاند ويبپاڼي د خبر له مخي په « اولسي جرګه » کي د کندهار د خلګو د يوه استازي، عبدالرحيم ايوبي، وروستى بيان تر نظر تېر کو.

تاند ویبپاڼه لیکي : « په ولسي جرګه کې د کندهار د خلکو استازي، چې د بندیانو د شکنجې په تړاو یې د ملګرو ملتونو پر خپاره شوي راپور خبرې کولې، نن چهارشنبې وویل چې په کندهار کې په سلګونو خلک چې د بندیانو په توګه بېول شوي، ورک دي او هېڅوک یې پر برخلیک نه پوهېږي . ده وویل چې د کندهار په مرکزي او نورو زندانونو کې بندیان سخت شکنجه کېږي او ډېر بد چلند ورسره کېږي .

عبدالرحیم ایوبي له شمشاد ټلویزیون سره په خبرو کې وویل چې له یوې میاشتې راهیسې یې هڅه کړې چې د کندهار امنیه قوماندان جنرال عبدالرازق پیدا کړي چې پر دې مسئله ورسره خبرې وکړي، خو د هغه په پیدا کولو نه دی بریالی شوی . ده وویل چې د دفاع وزیر پیدا کول ورته اسانه، خو د کندهار د اوسني امنیه قوماندان پیدا کول ورته سخت شوي دي .

ایوبي وویل چې په کندهار کې بندیان شخصاً د امنیه قوماندان، دغه راز د قومونو او قبایلو چارو د اوسني وزیر اسد الله خالد له لورې چې په را وروسته کې د کندهار د نظامي شورا د مشر په توګه ټاکل شوی، شکنجه کېږي . پر ښاغلي خالد مخکې هم تورونه پورې وو چې شخصاً بندیان شکنجه کوي او ان چې خوله پرې لګوي .

ایوبي وویل چې د بندیانو د کورنۍ غړي ده ته ورځي چې د خپلو بندیانو د برخلیک په باب معلومات غواړي، خو ایوبي وایي چې تر اوسه نه دی توانېدلی د خپلو ورکو دوستانو په باب معلومات ترلاسه کړي . ایوبي زیاته کړه چې په کندهار کې سرحدي لېوا ګڼې بندیخانې لري چې شپږمیاشتې بندیان په کې ورک وي او دا بندیخانې یې د اصولو او قوانینو خلاف کار وباله . » البته، د کرزي په فاسده او مزدوره اداره کې اسد الله خالد یوازنی وزیر نه دئ، چې زموږ د ربړېدلو عزیزانو او وطندارانو په ځورولو کې مستقیم لاس لري . د دې ټپل سوي او کرکجنې اداري په امنیتي، استخباراتي او دفاعي ځانګو کې داسي کسان د ګوتو په شمېر دي، چې د مظلومو افغانانو رټلو، سپکاوي او بې حرمتی ته د جرم په سترګه وګوري .

**د یوناما په رپوټ کي یادونه سوې ده : په ځینو حالاتو کي د یوناما مرکه کوونکو داسي ټپونه، نخښې او لکې (داغونه) یا د داسي ټپو د علاج دپاره بنداژونه ، دارو درمل او د توقیف سووکسانو له خوا د ځوروَني په ګوته سوي وسایل لکه ربړي پایپونه ولیده، چې د ځورونې او ناوړه چلند استازیتوب یې کاوه؛ امـا د « ملي امنیت » له لاربښوونو سره سم، ویوناما ته اجازه نه وه ورکړل سوې، چې له نیـول سوو کسانو سره د مرکــو پر مهـــال لــه .vi p. کمرې، کمره لرونکو موبایل فونو، ویډیو یا نورو ثبتوونکو وسیلو ځخه کار واخلي .**

رپوټ دغه راز په ډاګه کيي، چي یوناما له اووه دېرشو (۳۷) داسي کسانو سره هم مـــــرکي وکړې، چي د نیولو **vii. p.** پر مهال یي عمر تر اتلسو کالو لږ ؤ .

رپوټ د ۲۰۰۱ع کال په اپرېل کي د کندهار د « ملي امنیت » او پولیسو په حبس کي د شکنجي او تعذیب له امله یوه مړینه هم ثبت کړې ده . دوهم مخ

د رپوټ په یوه بله برخه کي د « ملي امنیت » د هغو ادارو نومونه اخیستل سوي دي، چي مأمورین یې د مالوماتو یا اقراراخیستلو په مقصد په سیستماتیکه توګه له ځورونو یا تعذیبو ځخه کار اخلي . په دې ډله کي د هرات، کندهار، خوست، لغمان او د « ملي امنیت » د تروریزم ضد ۱۲۴ ریاست، چي پخوا نیوي ( ۹۰) ریاست بلل کېدئ، شامل دي . یوناما د کاپیسا او تخار ولایتو د ملي امنیت په ادارو کي هم د ځورونو د باوري مدارکو او شواهدو خبري کړې دي . دریم مخ .

په رپوټ کي د بیان سوو روایتو له مخي په دغو ځوروَنو یا شکنجو کي ډېر وخت د ځنځیر یا نورو وسایلو په مرسته له دېوال، چت، فلزي میلو یا نورو نصب سوو شیانو ځخه ځړول ؛ په ربړي پایپو، برقي کېبلو، سیمو یا

لښتو د پښو پر تلو وهل، برقي جټکي، د تناسلي آلي پېچل اومروړل، د اجباري درېدلو په ګډون و بېلابېلو دردناکو حالتو ته مجبورول، د پښو د ګوتو د نوکانو ايستل، د جنسي تېري ګواښ او داسي نور شامل وه .

ملګري ملتونه يادونه کيي، چي استناد سوي عملونه ګرده د ځوروني له بين المللي تعريف سره بشپړ سمون لري . د نيول سووکسانو له ډلي څخه درې سوه څلېرويشت (۳۲۴) پوښتل سوي کسان له طالبانو يا نورو ياغي ډلو سره د شکمنو اړيکو له کبله نيول سوي وه . او نه اتيا(۸۹) نور يې د امريکا يا نورو ايتلافي ځواکو له خوا د « ملي امنيت » واداري يا پوليسو ته ورسپارل سوي وه . په دوه ويشتو(۲۲) قضيو کي نيول سوي کسان هغه مهال ځوروَل سوي دي، چي د افغاني چارواکو په واک کي وه . رپوټ زياتيي، چي د ځوروَني پر خلاف د ملګرو ملتو د سازمان کنوانسيون په هغو حالاتوکي د نورو دولتو چارواکو ته د توقيف سوو کسانو د ورسپارلو مخنيوی کيي، چي د باوري او معقولو دلايلو له مخي يې په سپارنه کي د ځوروَني خطر وويني[۱۴] .

سره له دې ټولو ترخو او خواشينونکو حقايقو، ملګري ملتونه بيا هم په خپل رپوټ کي د امريکا متحده ايالاتو او د افغانستان په اشغال کي نور برخه والو هيوادو ته په دغه راز جرمو کي د لاس لرلوګوته نه نيسي؛ او حتا په مهارت سره کوښښ کيي، چي دکرزي مزدوري اداري ته هم د چا خبره « برأت » ورکي .

که څه هم رپوټ په ډاګه ښيي، چي شکنجي او ځوروَني د هيواد له څلوردېرشو(۳۴) ولايتو څخه د څلېرويشتو (۲۴) ولايتو په اووه څلوېښتو (۴۷) توقيفخانو او محبسو کي سوي دي؛ مګر بيا هم يوناما په بې شرمی سره کِلماله وهي، چي ګوندي« ځوروَني د مؤسسو يا حکومت سياست » نه دئ؛ او ان په خپلو پلټنو کي (کي يې) د کرزي د خپلسره او فاسد رژيم د مرستي او همکارئ ستاينه هم کړې ده . سره له دې هم د ملګرو ملتو دا يو اړخيزي ځرګندوني هغه روښانه حقيقت نسي بدلولای، چي د افغانانو ځوروَني او کړاونه په واقعيت کي د امريکا او نورو ايتلافي قوتو له تېري او اشغال سره نېغ په نېغ اړيکی لري . تر لمر روښانه ده، چي امريکايي يرغل او د جنايتکارو مزدورو ډلو ټپلو بې پوښتني واکمني په افغانستان کي د بې ګونا خلکو د ځورونو او تعذيبو اساسي او مهم دليل ګڼل کيږي .

په رپوټ کي بيان سوي ځوروني او تعذيبونه په زياترو حالاتو کي جنګي جرمونه، د بشريت ضد جرمونه او د هغو کوښښو يوه برخه ده،چي د يرغلګرو پوځيانو او مزدور حکومت د امنيتي او استخباراتي ادارو له خوا د بهرني اشغال او کورنيو بې عدالتيو په وړاندي د اولسي مقاومت د وژني يا کمزوري کولو په مقصد کيږي .

افغانان ټول پوهيږي، چي امريکايي يرغلګرو د خپل ناروا او ظالمانه يرغل له همغه پيل څخه په افغانستان کي د اوسنيو سيستماتيکو تعذيبو او شکنجو تاداو کښېښاوه. په کندوز کي د طالبانو د تسليم سوو جنګيالو بې رحمانه وژنه او ځوروَنه هيڅکله د تاريخ له حافظي نه هېريږي . له امريکايي يرغل سره په افغانستان کي د تعذيب او شکنجي بازار دونه ګرم سو، چي د کندهار او بګرام پر شرمېدلو او بدنامو محبسوسربېره، په کابل کي د سي . آی . اې او نورو ايجنټانود شخصي زندانو خبرو هم ټول هيواد پر سر واخيستئ . امريکايي استادانو په خپلو وحشيانه کړنوسره د شمالي اتحاد بې رحمو جلادانو او قاتلانو ته د ځوروَنو او تعذيبو رسمي جواز ورکړ. د هيواد استخباراتي او امنيتي اداري له کلو کلو راهيسي د داسي جنايتکارو، بې رحمو او خاينو عناصرو په لاس کي دي، چي د ټولو خپلواکو او سرلوړو افغانانو، په تېره بيا غښتلو او نه تسليمېدونکو پښتنو ځوروَنه او شکنجه يي خپل رسمي سياست ګرځولئ دئ . د ډيورنډ دا خوا او آ خوا له تېرو لسو کالو راهيسي له القاعدي، طالبانو او نورو وسله والو جنګيالو سره د ملګرتوب يا مرستي په تور د بې ګونا پښتنو ناروا ځوروَل او ازارول، هغه انساني ضد سياست دئ، چي يرغلګر پوځونه، برلاسي غوښتونکي پاکستاني پوځيان، پراختيا غوښتونکي ايراني اخوندان،

پخوانی شمالي اتحاد او نوري پښتون دوښمني ډلي ټپلي گرده په يوه ليکه او يوه مورچل کي دريږي . دې ټولو جنايتکارو هيوادو او ډلو ټپلو د خپلواکی بخښوونکو او سرلوړو پښتنو په ځپلو، کړولو او بې پته کولو کي له هيڅ راز کوښښو څخه ډډه نه ده کړې؛ او تر څو وس لري، په دې ظالمانه او خاينانه هلوځلو کي به، پر هيڅ شي صرفه ونکړي .

شک نسته، چي دپخوانييو روس پلوه رژيمو په امنيتي او استخباراتي ادارو کي هم پراخي ځوروَني کېدې؛ جهادي تنظيمونه، طالبان او نور وسله وال مخالفين هم هيڅ يو په دې برخه کي ښه ريکارډ نه لري؛ خونن گورو، چي د « بشردوستی »، « اولسواکی »، « قانونيت » او « عدالت » درواغجنو مدعيانو او د دوی مزدورو جنايتکارو ډلو ټپلو په دې  تورو او شرمونکو انساني ضد عملو کي له ټولو ميدان گټلئ دئ؟!

د ملگرو ملتو رپوټ دغه راز په روښانه ټکو يادونه کيي، چي تعذيبونه له شکمنو ياغيانو څخه د اعتراف او مالومات اخيستلو په عامه او مروجه بڼه ورکول سوي دي . د کندهار د« ملي امنيت » د رياست په توقيفخانه کي يوه نيول سوي شخص وويل، چي چارواکو په مقعدکي د مرچک لړلي لښتي د منډلو گواښ ورته کړئ ؤ . د رپوټ له مخي تر ټولو بې رحمه او وحشي توقيفخانه په کابل کي د «ملي امنيت» د اداري هغه ودانی وه، چي د نيوي[١٥] (٩٠) رياست په نامه مشهور دئ . يوه نيول سوي کس د دې رياست په اړه و ويل :  «هر څونه چي ما له طالبانو سره د تړاو لرلو په اړه له اعتراف کولو ډډه کوله، د نيوي رياست چارواکو  هم په هغه اندازه خپله ځوروَنه او شکنجه سختوله؛ کالي يي را څخه وايسته؛ يوه کارکوونکي مي تناسلي آله په لاس کي ونيوله؛ او تر هغه وخته يي په داسي زور تاو را تاو کړه، چي له درد او عذابه يي بې سده سوم . کله چي پر سد راغلم سمدلاسه مي اقرار وکړ؛ او هغه څه مي وويل، چي دوی يي غوښتنه کوله؛ ځکه نور مي دا سخت درد او عذاب نسوای زغملای . يو بل نيول سوي کس د يوناما و مرکه کوونکو ته څرگنده کړه : « کله چي نيوي رياست ته بوتلم، نه پوهېدم، چي چيري يي بېولئ يم . . .  دوي ورځي وروسته د کوټي د ملگري له بيانه پوه سوم، چي په نيوي رياست کي يم . په نيوي رياست کي دونه وهل، ټکول  دي، چي خلک يي دوږخ/ دوزخ بولي . »

لکه څنگه چي گورو تر ټولو ناوړه او زړه لړزونکي ځوروني د هيواد په پلازمينه کي، چي د کرزي د رژيم او امريکايي اشغال د قوماندې مرکز دئ، پيښي سوي دي . له دې امله په رپوټ کي دا کوښښونه او هڅي هيڅ ځای نه نيسي، چي د کرزي د مزدور رژيم چارواکي او د هغوامريکايي باداران له بيان سوي جرمو څخه ليري او بې مسووليته و ښيي .

لکه څنگه چي د نړی د سوسياليستي ويبپاني ليکوال، باري گري او د انتي وار داټ کام ليکوال،  جان گلسټر، د ملگرو ملتو د رپوټ په اړه په خپلو تبصرو کي کاږي، د کرزي حکومت، امريکا او ناټو د ملگرو ملتو د سازمان په همکاری هلي ځلي وکړې، چي د ملگرو ملتو د رپوټ تر خپرېدو مخکي د رسېدلي زيان مخه و نيسي [١٦]. تر هغه وروسته چي د روان کال په سيپتمبر کي د رپوټ يوه مسوده ورکړل سوه، په افغانستان کي د ناټو عمومي قومندان، جنرال جان ر. آلن و هغو شپاړسو توقيف ځايو او محبسو ته د ياغيانو لېږدول وځنډول، چي د منظمو او همېشنيو ځورونو په ورکولو مشهور دي[١٧] .

نيويارک ټايمز ورځپاڼي، چي تل يي د امريکايي يرغل په  ستاينه او ملاتړ کي خپروني کړي دي، هم د اکتوبر د مياشتي د لسمي نېټي په گڼه کي په افغانستان کي د توقيف سوو کسانو د سيستماتيکي ځوروني په باب اوږده مقاله خپره کړې ده . د دې ورځپاڼي خبريالي، اليسه جانسن روبين، د امريکايي قومندان، جنرال آلن، په باره کي يادونه کړې ده، چي ده په افغان توقيف ځايو او محبسو کي د ملگرو ملتو تر رپوټ وروسته د توقيف ځايو او بنديخانو د

پلټني په مقصد يو پلان جوړ کړئ دئ، چي د استنطاق د عصري لارو چارو په برخه کي ښوونه او روزنه ورکيي؛ او د افغان حکومت پر لارو چارو او تعاملاتو هم څارنه کيي . د امريکايي سفارت مأمورينو هم په دې اړه وويل : « دا سفارت اوس د افغاني توقيفخانو او زندانو دپاره د اوږد مهاله څارني د يوې کړنلارې په طرحه کولو بوخت دئ . د ناټو کارکوونکو په يوه وينا کي څرګنده کړه، چي دوی له ملګرو ملتو او افغان حکومت سره په ګډه کار کيي، چي د « توقيفولو عمليات ښه کړي » او د ناوړو عملو د مخنيوي په مقصد پر لارو چارو غوَر وکي ».[١٨]

د نړۍ د سوسياليستي ويبپاڼي د ليکوال، باري ګری، په وينا د نيويارک ټايمز د مقالي ليکواله د هغه ظلمو او ځوروَنو يادونه نه کيي، چي پر افغان اولس تېري سوي دي، بلکي يوازي دې خبري ته اندېښمنه ده، چي د ملګرو ملتو خپور سوئ رپوټ به په افغانستان کي د امريکايي عسکرو د کمښت پلانونه پېچلي کړي .

نيويارک ټايمز يادونه کيي، چي کېدای سي د ملګرو ملتو خپور سوئ رپوټ له افغان پوليسو او استخباراتي ادارو سره د امريکا مرستو ته زيان ورسيي . د دې خبري ضمني مانا دا ده، چي يوناما بايد د بل هر وخت په څېر په افغان توقيفخانو او محبسو کي د خپلسرو چاروکو پر سيستماتيکو ځوروَنو او تعذيبو سترګي پټي کړي وای . د نيويارک ټايمز خبرياله په ټکی او ريا سره هغه امريکايي قانون ته ګوته نيسي، چي له مخي يې د بهرنييو چارو او دفاع وزارتونه اجازه نه لري، د يوه هيواد هغه امنيتي ځواک ته مالي مرسته يا پوځي روزنه ورکي، چي په فعاليتو کي د بشري حقوقو د نقضولو په اړه باوري شواهد او مدارک په لاس کي يي . په داسي حال کي، چي اليسه روبين په دې ښه پوهېږي، چي سي . آی . اې او پينټاګان د خپلو استعماري هدفو د تحقق په لار کي نه يوازي د امريکايي قوانينو، بلکي نړۍ والو موازينو او معيارو هم هيڅ پروا نه لري .

د نړۍ د سوسياليستي ويبپاڼي ليکوال، باري ګری، د ملګرو ملتو د رپوټ په وړاندي د امريکا د حکومت او نيويارک ټايمز د در يځ په اړه په خپله تبصره کي زياتيي : «د امريکا حکومت او نيويارک ټايمز ورځپاڼه داسي سوچ کيي، چي د امريکا او نړۍ خلکو ګردو په ډله ييزه توګه حافظه له لاسه ورکړې يي؛ او د امريکا د هغو ځورونو په اړه هيڅ مالومات نه لري، چي د عراق په ابوغريب، د کيوبا په ګوانتنامو، د افغانستان په بګرام او داسي نور ځايو کي خلګو ته ورکړي دي . په حقيقت کي د ځوروني هغه تخنيکونه او لاري چاري چي د افغانستان په اړه د ملګرو ملتو په رپوټ کي راغلي دي، ټولي دامريکا د متحدو ايالاتو له خوا عملي سوي دي؛ او تر دې وروسته به هم د نړۍ په ګوټ ګوټ کي په کار واچول سي .»

باري ګري وروسته کاږي : « نيويارک ټايمز ورځپاڼي د اکتوبر د لسمي نېټي د دوشنبي په مقاله کي په بګرام کي د خپل هغه افشأ کوونکي رپوټ په باب محتطاطانه او بدبينانه سکوت کړئ دئ، چي د ٢٠٠٥ع کال په مي کي هغه مهال خپور سو،چي ورځپاڼي د بګرام په هوايي اډه کي د امريکايي پوځيانو له خوا د ٢٠٠٢ع کال د دوو بې وسلې ملکي افغانانو د وژني په باره کي د امريکا د متحدو ايالاتو د اوردو دوه زره مخيز رپوټ تر لاسه کړ . هغه وخت د نيويارک ټايمز ورځپاڼي له دې رپوټ سره يو ځای په خپله خپره سوې سر مقاله کي داسي وليکل : د بګرام په اړه د نيويارک ټايمز له خوا تر لاسه سوي تحقيقاتي دوسيې روښانه کړه، چي له بنديانو سره ناوړه چال چلند عادي او ورځنی ښه لرله : د کوټو په چتو پوري تړل، له خوبه بې برخي کول، په لغتو او سوکانو وهل، جنسي سپکاوی او د ساتونکو سپو د داړلو ګواښ ټول کټ مټ هغه څه دي، چي وروسته په عراق کي تکرار سوه.»

د ليکني په پای کي درنو لوستونکو ته د بولګي او مثال په بڼه په افغانستان، عراق او ګوانتنامو کي د نړی د « متمدنو»، « بشردوستو» او « ډیموکراتو» امریکایي پوځیانو د وحشیانه ځوروَنو اوتعذیبو په اړه د اینټرنیت څو لینکونه وړاندي کوو، چي حقیقتونه د سر په سترګو وګوري؛ او په خپله قضاوت وکي :

http://www.youtube.com/watch?v=KtMZ_ua9hZk&feature=results_main&playnext=1&list=PL11E26DA649D761C3

http://www.youtube.com/watch?v=-ux1c-GTzyw&feature=related

http://www.youtube.com/watch?v=lEMr-Kfpr3A&feature=related

http://www.youtube.com/watch?v=-DJbyhGuMsc&feature=related

http://www.youtube.com/watch?v=GXVJ_4SUzwI&

feature=relatedhttp://www.youtube.com/watch?v=_r-wPVwho-k&feature=fvsr

http://en.wikipedia.org/wiki/Bagram_torture_and_prisoner_abuse

http://www.wsws.org/articles/2009/dec2009/afgh-d01.shtml

لمنليکونه

1 United Nations, “The Universal Declaration of Human Rights”, adopted on 10 http://www.un.org/en/documents/udhr/December, 1948:

2 International Committee for Red Cross, “The Geneva Conventions of 1949 and their Additional http://www.icrc.org/eng/war-and-law/treaties-customary-law/geneva-Protocols “: conventions/index.jsp

***3 Office of the United Nations High Commissioner for Human Rights: International Covenant on Civil and Political Rights, adopted on 16 December 1966, effective from 23 March 1976:***

http://www2.ohchr.org/english/law/ccpr.htm

4 Office of the United Nations High Commissioner for Human Rights: “The United Nations Convention against Torture and Other Cruel, Inhuman or Degrading Treatment or Punishment”, signed on 10 December 1984, effective from 26 June 1987:

http://en.wikipedia.org/wiki/United_Nations_Convention_Against_Torture

۵ (قانون اساسی افغانستان ، ۱۳۸۲) .

6 Systemic or systematic.

7 Water boarding.

8 Water cure.

9 Abacination. 10 Glasgow Smile. 11 Hamstringing. 12 Kneecapping.

۱۳ تاند، « ایوبي : د کندهار امنیه قوماندان او اسدالله خالد بندیان شکنجه کوي » ، چهارشنبه، د اکتوبر ۱۲مه، ۲۰۱۱ع کال : http://taand.com/index.php?mod=article&cat=c66&article=29431

14 United Nations Assistance Mission in Afghanistan, UN Office of the High Commissioner for Human Rights, “Treatment of Conflict-Related Detainees in Afghan Custody”, October 2011, Kabul, Afghanistan: http://unama.unmissions.org/Portals/UNAMA/Documents/October10_%202011_UNAMA_Detention_Full-Report_ENG.pdf

۱۵ د ګرامر له اړخه خو د نیوي یا نوي پر ځای، چي اصلي ( کارډینل) عدد دئ، د نیویم یا نویم ټکی، چي ترتیبي ( اورډینل) عدد دئ، ډېر سم بریښي؛ خوپه انګریزي متن کي په اصلي یاکارډینل بڼه راغلئ دئ؛ ځکه مي په همدي شکل ترجمه کړ . د انګلستان د کورنیو او باندنیو استخباراتو اداری ( ایم آی ۵ او ایم آی ۶ ) هم کټ مټ همداسي نومونه لري . که سړئ بڼه ځیر سي د استخباراتي ادارو او سازمانونه نومونه د ګرامري قواعد تابع دي؛ او نی په عملو او فعالیتو کي انساني او حقوقي معیارو ته چندان پام کیږي .

16 Barry Grey, “UN report documents systematic torture of Afghan detainees”, 12 October 2011, World Socialist Web Site: http://www.wsws.org/articles/2011/oct2011/afgh-o12.shtml

17 John Glaser, “Torture is Systemic in Afghan Prisons, UN Report Finds: No prosecutions for torturers have yet been initiated and the likelihood that US officials will be held accountable is remote”, October 10, 2011: antiwar.com/2011/10/10/torture-is-systemic-in-afghan-prisons-un-report-finds/

18 Alissa J. Rubin, “U.N. Finds ‘Systematic’ Torture in Afghanistan” October 10, 2011, The New York Times: http://www.nytimes.com/2011/10/11/world/asia/un-report-finds-routine-abuse-of-afghan

پای